مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد.

اکبر بری

۲۰۲۰/۰۸/۱۴

# ښومره به ښه وای

چي ته راخپله  راخپل دي زړه وای
زه دي د زړه سر  ته مي هر څه وای
تل راسره وای  تل راسره وای
هجران دي نه وای  بېلتون دي نه وای
جفا دي نه وای  دغا دي نه وای
ستم دي نه وای  هرکار دي ښه وای
ما درته وېلای  نغمې د مینې
ستا راته زړه کې  هوسېده وای
درد مو شریک وای رنځ مو شریک وای
ګډ وای که غم و  که موسېده وای
تاراکتلای  په مینه ماته
زما ټول عمر  درته کاته وای
مینه وای مینه  نور بل څه نه وای
په دغه اور کې  مو سوځېده وای
تاته له ماوای  ماته له تا وای
که مي هرڅه وو  که دي هرڅه وای
چي دواړه یو زړه  او یوه خوله وای
ښومره به ښه  وای ښومره به ښه وای


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي.  په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ  maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ